
# د ملا محمد عمر پټ ژوند



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

## About the Author

Bette Dam is an independent journalist covering Afghanistan, who lived in Kabul from 2008 to 2014. She is a guest lecturer at Sciences Po in Paris, and is the author of *A Man and a Motorcycle: How Hamid Karzai Came to Power*. Her second book, *Searching for an Enemy*, was published in Dutch in February 2019.

## About the Zomia Center

ZOMIA

The Zomia Center is dedicated to the rigorous study of non-state spaces for scholarly and humanitarian pursuits. It is an initiative of Arizona State University's Center on the Future of War and New America, a D.C.-based think tank. Zomia researchers produce contextually-sensitive, interdisciplinary and empirically-grounded studies on areas outside formal government control.

The Center's projects address a diverse set of questions on the micro-politics of war and revolution; the political economy of non-state spaces in the context of globalization and neoliberalism; public health; and local cultural histories. The center's goal is to encourage the free exchange of information among the scholarly and humanitarian communities.

Named for the historically contested uplands of Southeast Asia, The Zomia Center builds on a rich tradition of non-state scholarship, in the belief that empirical understanding of the contested present is necessary for a more peaceful and egalitarian future.

For more info, see www.zomiacenter.org

## In partnership with

ASU Arizona State University
Center on the Future of War

NEW AMERICA

Courtesy www.pdfbooksfree.pk

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

## 7-May-2019 د خپرولو نېټه-

## د ژباړن خبري :

دا کتاب د ملامحمد عمر د ژوند هغه پټه برخه تر پوښتنې لاندي نیولې چي بیله دوو یا درو کسانو هیڅ چا یې هم په اړه معلومات نه لرل دا کتاب هالنډۍ ژورنالیستي په افغانستان کي د پنځو کالو د څېړنو او سلګونو مرکو وروسته لیکلي دي او داسي پټ حقایق یې وړاندي کړي چي نژدې ټوله نړۍ یې حیرانه کړې ده شاوخوا د نړۍ ټولي استخباراتي شبکې او رسنۍ یې تر سوال لاندي راوستې اتلس کاله یې د نوموړي په لټون پسي ټوله نړۍ ولټول او په میلیاردو ډالر یې خرڅ کړل خو بیا هم بریالي نه سول چي یا یې ونیسي او یا یې په اړه کره معلومات لاسته راوړي تیري دوې لسیزي یې ړانده وارونه کول کله به یې ویل چي په پاکستان کي دي کله به یې ویل چي د اسامه بن لادن سره یو ځاي د امریکا پر ضد عملیات ترسره کوي او کله بل څه ،خو ملاعمر دوي ته نیژدې د دوي څخه د یو څو مترو په فاصله کي اوسیدي او د نړۍ هغه ځواکونو چي په پرمختللې ټیکنالوژي سمبال ده داسي ځان ترې پټ وساتي چي انساني عقل ورته په تعجب کي پاته سي

ما هڅه کړې چي په پوره امانتدارۍ او اسانه ژبه یې وژباړم او جملې بندي یې وکړم خو که بیا هم کومه جمله ګونګه او یا بله نیمګړتیا ولري بخښنه به راته کوي ولې چي د دې کتاب د ژباړلو څخه مي هدف پیسې او یا بل امتیاز لاسته راوړل نه دي بلکه خلګو ته مي د حقایقو د رسولو هڅه کړېده او باوري یم چي تخنیکي ستونزي او لیکدود به هم د ډیرو نیمګړتیاو سره مل وي چي مخ له مخه درڅخه یو ځل بیا بخښنه غواړم

په دې کتاب کي یوه موضوع د طالبانو او تصوف تر نامه لاندي لیکل سوې ده خو کله چي ما ولوستل موضوع یې ډیره پیچلې وه یا خو معلومات ورکونکي لیکوالې ته سم معلومات نه دي ورکړي او یا لیکواله په موضوع سمه نه ده پوهه سوې دا چي موضوع مذهبي او عقیدوي اړخ لري داسي لغاتونه پکښي کارول سوي دي چي یو لغت یې زیاتي معناوي درلودلاي سي نو که ما ژباړلې واي شاید د لیکوالې د نظریاتو او فکر سره یې سمون نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واي خوړلي نو له دې کبله مې ستاسو د معلوماتو لپاره هغه موضوع کټ مټ په انګلیسي کې ورسره اضافه کړې کیدای سي یو څوک ترې سم اخذ وکړي ، نو نوري خبري رالنډوم او د کتاب لوستلو ته مو رابولم

## په درنښت : ستاسو ورور

## ا.ش . س

## د لیکوال په اړه :

بیتي ډم یوه خپلواکه ژورنالیسته چې په افغانستان کې د ۲۰۰۹ څخه بیا تر ۲۰۱۴ پوري یې په کابل کې دنده ترسره کړې ده . نوموړې په پاریس کې د سیاسي علومو یوه افتخاري ویناکونکې (استاده) ده، او د (سړي او موټرسایکل )کتاب (چې څنګه حامد کرزي واک ته ورسیدي) او دوهم کتاب یې (د یو دښمن په لټه کې ) وو چې په فبروري ۲۰۱۹ کې په هالنډ کې چاپ سو.

## د زومیا سنټر په اړه :

زومیا مرکز د بشردوستي او علمي لټون په خاطر چې په غیر دولتي ساحو کي پیچلو زده کړو ته وقف سوي دي دا د واشنګټن د ایریزونا ایالتي پوهنتون یو نوښتي مرکز دی چې( د جنګ اینده او نوي امریکا) باندي تحلیلي څیړني کوي . زومیا څیړونکي په هغو ساحو کي چې له دولتي کنټروله وتلي دي سیاقي ، نړیوال(بیلابیلو ژبو) او پر تجربو ولاړ علمي نوښتونه یا څیړني کوي

د نوموړي څیړنیز مرکز پروژې د کوچني سیاست د جنګ او انقلاب اړوند د نړیوالتوب او نیولبرالیزم په قیاس کي د غیردولتي سیاسي زیرمو ، عامه روغتیا او محلي کلتوري تاریخونو په اړه د سوالو یو څو بیلابیلي کڅوړي په نښه کوي چې د جنوب ختیځې آسیا د تاریخي سیالیو لپاره نومول شوي دي، د زومیا مرکز د غیر دولتي بورسونو یو بډاي رواج جوړوي، په دې باور چې تجربوي پوهنه د اوسني مسابقه کونکي وخت او یو سوله ایز او مساوي راتلونکې لپاره اړین ده

for more info, www.zomiacenter.org

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تعارف :

له اتلسو کالو وروسته بلاخره طالبان او امریکا د سولې لپاره د خبرو ميز ته کښيني چې کيداي سي چې هغه جنګ چې د امریکا په تاريخ کې تر ټولو اوږد جنګ دې پای ته ورسيږي خو د يادونې وړ ده چې د هغو خلګو په اړه امریکا ډير لږ معلومات لري چې د سولې لپاره ورسره هيلې تړلې دي

په عمومي ډول د طالبانو هيت دا ډاډ ورکړي او دا يې منلې ده چې افغان خاوره به نور د خارجيانو پر ضد او تاوان استعمال نه سي لاکن ځيني مبصرين په دې اړه باوري نه دي چې دوي دي له القاعدې سره اړيکې وشکوي. طالبان دا باور ورکوي چې په خپلواکه او خالص افغاني ځواک په توګه بړغيږي خو د پاکستان سره د اړيکو اړوند سوال يې مبهم يا غيرواضح پاتيږي

تر اوسه پورې لا د سولې بهير ته د رسيدو خنډونه ډير لوي دي

په لسګونو زره افغانان مړه سول په ټريلينونو ډالر مصرف سول د خو د بريا هيڅ څرک هم نه لګيږي

د طالبانو د امارت اړوند مغشوشتياوې شايد په يوه سړي (ملامحمد عمر)کې سره منسجم يا څه نا څه په وپوهيږو.

د دې ګروپ ستر او مشهور مشر هغه وخت د نړيوالو د توجه ورګرځيد کله چې يې د خپل هيواد د بودا ديوقامته مجسمه نړول او دوهم ځل کله چې د يوولسم سيپټمبر د حملو په تړاو يې اسامه بن لادن و امريکا ته د تسليمۍ څخه ډډه وکړه

ډير لږ کسان د ملاعمر په اړه معلومات لري يوازې يو څو دانې عکسونه دا ښيي چې ده شتون درلودې

د نوموړي د ژوند په اړوند معلومات له ډيره وخته مبهم او سواليه نښان دي ، کله چې په ۲۰۰۱م کې د طالبانو حکومت ړنګ سو ، هغه په داسې توګه بريالې له صحنې په پټه ووتې چې د بن لادن سره سره دې هم د نړې تر ټولو زيات ناټو ته مطلوب يا غوښتونکې کس وو. امريکا د ده پر سر لس ميليونه ډالره جايزه ايښې وه خو بريالې نه سول چې پيدا يې کړي د ده مړينه چې په ۲۰۱۳م ميلادې کال کې د ناروغې له کبله وه د طالبانو د مشرتابه لخوا په داسې حال کې افشا سوه چې د ده تر مرګ وروسته يې هم د ده په نامه اعلاميې جاري کولې چې په تحريک کې د ډيرو خپلمنځې نيوکو سره هم مخ ول او په نتيجه کې نژدې وه چې امارت له منتشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدو سره مخ سي خو بالاخره ټولي خواوي په دې راضي سوې چي د ده د نامه څخه په ګټه اخيستني جنګ ته ادامه ورکړي .

طالب جنګياليو له ملا عمر سره په داسي حال کي دومره شديده ، جذباتي او لمسونکي مينه درلودل چي ډېرو يي هيڅکله د ده عکس لا نه وو ليدلي، نه يي دي په خبرو ليدلي وو او نه يي د ده خط ليدلي وو يو طالب راته وويل چي ملاعمر ولاړي لاکن هغه زموږ سره ژوندي دي او موږ د هغه په نامه او روح باندي جنګيږو.

د نوموړي د مرګ تر اعلانيدو پوري ، امريکا ملاعمر يو تر ټولو ستر ترهګر باله ، چي د القاعدې يو ځاي د امريکا د بربادۍ لپاره دسيسې جوړوي . يو امريکايي يادداښت چي د ويکي ليکس لخوا افشا سو راپور ورکول سوي و (د مثال په ډول) ، چي ملاعمر د طالبانو پټ والي ملاعاصم څخه وپوښتل چي ولي دي په پلان سويو لاريونو کي د وسلو د ويشلو فرصت له لاسه ورکړ تر څو حالت دي کړکيچن کړي واي

دغه يادداښت ادعا کوي چي ملاعمر په مکرر ډول د امارت غړي تمويلول چي په پيسو د افغانستان په داخل کي ترهګريز بريدونه او نور ياغي فعاليتونه چمتو، اداره او مديريت کړي

کيبل وايي چي ملاعمر په منظم ډول له اسامه بن لادن سره ليدل او په مياشت کي به يي غونډه ور سره کول او شاوخوا شل نورو کسانو به هم پکښي ګډون کاوه، يادداښت نور زياتوي چي دا غونډې په نوبتي ډول په کوټه او په هغو کليو کي ترسره کيدې چي د پاکستان او افغانستان ترمنځ يي موقعيت درلود. د امريکا په خبره ، ملاعمر د طالبانو د ړنګيدو سره په پاکستان کي پټنځايونه ومونده او فعاليتونه يي له هماغه ځايه سر ته رسول.

او په ۲۰۱۵م کي د افغانستان استخبارات امنيت ملي او ارګ په ګډه اعلاميه خپره کړه چي د اعتباري معلوماتو له مخه چي دوي ته رسيدلي هغه د کراچي په يوه روغتون کي وفات سوي دي او زياته يي کړه چي موږ پوهيدلو چي هغه په پاکستان کي وو او ورپسې د سي اي اې مشر ډيوډ پيټريس وويل چي هغه اول په بلوچستان کي ناروغه سو او د کراچي په روغتون کي وو خو موږ نه سواي کولاي چي هلته مو عمليات ترسره کړې واي او خپل ملګري مو هم نه سول استولاي چي هلته عمليات ترسره کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

1 Liebert, L. (2019, January 29). CIA Chief warns Afghan deal would require monitoring terrorists. *Bloomberg.* Retrieved from https://www.bloomberg.com/news/articles/2019-01-29/cia-chief-warns-afghan-deal-would-require-monitoring-terrorists; Haqqani, H. (2019, February 7). Don't trust the Taliban promises. *Foreign Policy*. Retrieved from https://foreignpolicy.com/2019/02/07/dont-trust-the-talibans-promises-afghanistan-trump/; Hirsh, M. (2019, January 29). Ryan Crocker: The Taliban will 'retake the country'. *Foreign Policy*. Retrieved from https://foreignpolicy.com/2019/01/28/ryan-crocker-the-taliban-will-retake-the-country-afghanistan-deal/

2 Crawford, N. C. (2018, November 14). Costs of War. *Watson Institute, Brown University*. Retrieved from https://watson.brown.edu/costsofwar/files/cow/imce/papers/2018/Crawford_Costs%20of%20War%20Estimates%20Through%20FY2019%20.pdf

3 Mullah Omar is not on the Rewards for Justice website any more. Here is an online archive with the old text: "Wanted. Mullah Omar. Up to $10 Million Reward." Retrieved from https://web.archive.org/web/20061005050343/http://www.rewardsforjustice.net/english/index.cfm?page=MullahOmar

4 War Diaries (2006, August 16). Threat Report IED Threat IPD Meymana. *WikiLeaks*. Retrieved from https://wardiaries.wikileaks.org/id/7708CDAE-2219-0B3F-9FFA8E46CFBBEC8B/

5 Ibid.

6 Ibid.

7 BBC News (2015, July 29). Mullah Omar: Taliban 'died in Pakistan in 2013'. Retrieved from https://www.bbc.com/news/world-asia-33703097



Courtesy www.pdfbooksfree.pk

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا يوه خبره هم رشتيا نه ده . ما د ملاعمر د ژوند پر څيړلو باندي پنځه کاله وخت تير کړ او هلته مي او په درځنو سفرونه کول چيري چي د ياغيانو واک و د هغه د نيژدې ملگرو او قريبانو سره مي ليده کاته طالب مشرانو سره مي وکړې

ما هغه خلگ پيدا کړل چا چي تر اوسه پوري د خلگو په مخ کي خبري نه وې کړي ،ما په درځنو افغان او امريکايي چارواکو سره مرکې وکړې چي په شخصي مجلس کي به يي د ملاعمر په اړه يو ډول او په عامه ځايونو کي به يي بل ډول کيسې کولې ، په دسمبر ۲۰۱۸م کي ما يو نوي سړي وموند چا چي په ژوندکي د ملاعمر سره دوولس کاله تير کړي و او د نوموړي پر ساتنه مامور و ، هغه د طالبانو د مشر سره اوسېدلي وو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باندینۍ نړۍ سره د وصل یوازیني چینل و هغه اوس د افغانستان د استخباراتو په لاس کي دي او زه هغه یوازینۍ ژورنالیسته وم چي له ده سره مي مرکه وکړه . د دې څیړنیز ژوندلیک تفصیل زما په نوي کتاب (د دښمن په لټه کي ) دي چي په هالنډۍ ژبه راوتلي دي او دلته یي په لنډ ډول خپروم

دا کیسه چي امریکا او یا بل چا ابلاغ کړیده نیږدې هر چا غلط او درواغ ویلي دي، د ۲۰۰۱م کال څخه وروسته ملاعمر هیڅکله پاکستان ته نه دي تللي او پر ځاي یي د پټیدو لپاره خپل پلرني وطن خوښ کړ او اته کاله یي په داسي ځاي کي تیر کړل چي د یو څو کلومیترو په فاصله کي ورته د امریکایانو بیس پروت و چي په زرګونو فوځیان پکښي ځاي پر ځاي و،

دا موندني یا معلومات ، طالبانو او افغان چارواکو هم تاییدکړي دي او دا د امریکایي استخباراتو ناکامي بولي او داکیسه د دې باعث ګرځیدلې چي د افغانستان د جنګ اړوند د امریکا د نورو ادعاو په اړه نور شکونه هم را و ټوکیدل . ملاعمر پاکستان ته له ور تګ څخه له دې کبله انکار وکړ چي پر دې هیواد یي ژوره بې اعتمادي لرل، او د بغاوت اړوند یي د نوموړي هیواد ښکیلتیا بې ارزښته بلل . اوس دي د طالبانو روحاني لارښود و ، یو داسي حقیقت چي خارجیانو ته به یو معمه معلومیږي خو کله چي عاقلانه برخورد کوو او کله چي د نوموړي د پرهیز ګاري د حدودو په اړه قضاوت کوو کوم چي په جنوبي افغانستان کي په عامه توګه یي طریقت بولي

8 The Hudson Union (2016, June 24). Director of the CIA Director General Petraeus on the death of Terrorist Mullah Omar. Retrieved from https://www.youtube.com/watch?v=l76Qolyyx4k

---

دا شخصیت د خبرو پر فصاحت او بلاغت ، په ګرمو ګرمو بیانیو ولاړ نه و بلکه ډیرو طالبانو ته دي یو بې غرضه ، نه خطاایستونکي شخصیت معلومیدي چي د دوي پر شاوخوا د فاسدو ماده پرستانو ضد یي باله . د نړیوال اسامه بن لادن سره یي توپیر ډیر نه سي کیداي

په دې ځاي کي ، د ملاعمر کیسه موږ ته دا رانښیي چي په حقیقت کي طالبان او القاعده څومره سره جلا یا مختلف دي . نن چي د سولې امیدونه پر غوړیدو دي ، په دې حصه کي ، چي ایا په دې باور په کار دي چي القاعده او طالبان په رشتیا سره بیلیداي سي؟ چي د دې د پوهیدو لپاره د ملاعمر په کیسه پوهیدل تر هر څه مهمه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تېښنته :

امریکا پر افغانستان په اکتوبر ۲۰۰۱م کال حمله وکړه، او د ډسمبر په اوایلو کې د طالبانو اخیرني قوي مرکز هم سقوط وکړ. حامد کرزي د امریکایانواو د سي اي اې د خاصو ځواکونو په توسط واک ته ورسیدي، او ډیر طالبان څوک د خط له لاري، او څوک په کوټه کې د ده د ورونو له لاري ورته تسلیم سول .

د ډسمبر پر ۵مه ملاعمر د طالب جګپوړو مشرانو یوه غونډه د کندهاري تجار په زیرخانه کې راوبلل ، ما د ډیرو غړو سره چې په دې غونډه کې یې ګډون کړي وو مرکې وکړې یو له دوي څخه عبدالسلام راکټي وو، چې د زابل ولایت د لوړپوړو طالبانو څخه شمیرل کیدي .

د راکټي په خبره ، زیرخانې ته له ننوتو د مخه ګډون کونکي ټول په بشپړه توګه تلاښي کیدل

او څو ته ویل سوي وو چې په لار کې موټران سره بدل کړي تر څو ملاعمر ونه پیژندل سي او د ښکاره کیدو مخه یې ونیول سي ، په کور کې ملاعمر په داسي حال کې پر مځکه کښینستي چې توپک یې په غیږ کې پروت وو، د خلګو څخه یې پوښتنه وکړه ؛ تاسو څه غواړي ؛ ډیري دې ته چمتو وو چې جنګ پریږدي ، خو هر یو چپ وو. او بیا ، بالاخره یوه کس وویل چې دوي غواړي چې تسلیم سي . راکټي وویل چې یوه کس جرآت وکړ او چوپتیا یې ماته کړه خو هغه د ملاعمر د قهر څخه ډاریدي،ده راته وویل زه شکمن وم چې که موږ د جنګ د پریښودو ورته وویل موږ به مړه کړي

لاکن هغه ارام وو ، کله چې یې په بشپړ ډول د خپلو خلګو د پریکړې څخه ځان مطمین کړ

وروسته یې وویل چې هغه خپل واک وزیر دفاع ملا عبیدالله ته سپاري ،

ملاعبیدالله که کومه پریکړه باید په کلکه باید ملاتړ یې وسي هغه یو خط لاسلیک او هدایت یې وکړ چې یې متابعت او پیروي وسي ، ملاعمر ګروپ ته دوه واره وویل چې پوه سواست. او بیا له خوني یوازي ووت . هغه طالبان چې پاته سول خوشحاله سول چې جنګ به ودریږي . دا د روژې میاشت وه ، راکټي وویل چې په هغه شپه زموږ څخه د روژې ماتول لا هیر سول

په دا بله ورځ ملاعبیدالله د کندهار شمالي اولسوالي شاه ولیکوت ته په دې نیت ووت چې کرزي او د ده ملاتړو سره ووینې . کرزي ورسره ولیدل او تړون وسو د شاولیکوټ په توافق لیک کې ملا عبیدالله او طالبان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې  راضي سول چې وسله به ايږد کرزي ومنل ، او دا بله ورځ د رسنيو په مخ کې څرګند سو ، او اعلان يې وکړ چې طالبان د دې خاوري بچيان دي او وبه بخښل سي خو القاعده او اسامه بن لادن د افغانستان دښمنان دي

هغه وخت جنګ پای ته ورسيدي.

ي او کورو ته به ځي او يا به په حکومت کې ګډون کوي .امارت په بشپړ توګه له منځه ولاړې

9  In total three participants of this meeting were interviewed, including Mullah Salam Rockety, Rais-e-Bagran, and Amir Mohammed Agha.
10 See also Dam, B. (2014). *A Man and A Motorcycle, How Hamid Karzai Came to Power.* Utrecht: Ipso Facto.


Courtesy www.pdfbooksfree.pk

لاکن د امريکا اراده بل ډول وه . واشنګټن طالبان جدي خطر وباله او د ملاعمر نوم  تر  بن لادن وروسته د ترووريستانوتر ټولو ډير  مطلوبو يا غوښتونکو ترووريستانو په ليسټ کې  شامل کړ.

د وزات دفاع منشي ډونلډ رمسفيلډکرزی راوغوښتي او د رسنۍ د اعلاميې د بيا اعلانولو غوښتنه يې وکړه تر څو ملاعمر د بخښني د ليسټ څخه وباسي ، په دې وخت کې امريکايانو پلان جوړ کړ  چې د کرزي هڅې شنډې کړي چې د سابقه طالبانو سره روغه جوړه کوي ، دوي حامد کرزي  ته نيژدې  هغه  کس چې د طالبانو سره يې دوستانه اړيکې لرلې هغه والي يې   په جنګسالار ګل اغا شيرزي بدل کړ. ده او د ده مليشو ډېر ځاي ناستو طالبانو په ټينګولو لاس پوري کړ ، او يا چې پاکستان ته روان و  او د ځان لپاره يې پټنځايونه لټول . تر ټولو غټه جايزه پر ملاعمر ايښوول سوې وه. امريکا او شيرزي په کندهار او هلمند کې  ډير لوي عملياتونه ترسره کړل خو بخت ورسره ياري ونه کړه . ملاعمر د خط د لاسليک څخه وروسته چې واک يې وسپاري ترڅو چې خلګ په خبريدل  د کندهار په خامه  کوڅو کې په ډيره اسانۍ سره  له سترګو پناه سو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پتېدل :

دسمبر ۲۰۱۸م کال ، د دوو کالو د هڅو پس، زه په دې و توانیدم چې د هغه سړي سره چې عینکي یې پر سترګود اوړدې شناوي ږیري څښتن عبدالجبار عمري سره ووینم . جبار عمري له هغه وخته د ملاعمر ساتونکي و له کله چي د کندهاره ورک سو او بیا تر۲۰۱۳م کال چې د ملاعمر د مړیني کال د ي ورسره ملګري وو او اوس د ۲۰۱۷م کال څخه د امنیت ملي په بند کي دي . د ده د مرکې څخه ، او د کیسې په څو برخو ویشلو او د هغه باخبرو سرچینو څخه چي ما د ملاعمر د ځاي په اړه د ۲۰۰۱م کال څخه ټولي کړې وې سره دې پایلې ته ورسیدم ، چي ملاعمر په دغه موده کي هیڅکله هم په پاکستان کي نه دي اوسیدلي . او خپل پاته عمر یي د زابل د غزنۍ سیمو په لیري پرتو کوچني کلیو کي تیر کړ.

معتصم اغاجان، د ملاعمر ښه ملګري او د مالیې پخواني وزیر راته وویل ، چي د ۲۰۰۱ م کال کي د طالبانو د حکومت په اخري شپو او ورځو کي ملاعمر له ما سره تماس ونیوي او راته یي وویل چي د ده د کورنۍ لپاره یو خوندي ځاي برابر کړي . معتصم د ملاعمر یوه ښځه او ماشومان له ځان سره پاکستان ته بوتله او هلته میشته سول او بیا یي هیڅکه له ملاعمر سره و نه لیدل ، او د معتصم په خبره بیا یي هیڅکله خپله ښځه او کورنۍ و نه لیدله

جبار عمري راته وویل ، ملاعبیدالله تماس راسره ونیوي چي د ملاعمر د تیښتي لپاره چمتووالي ونیسي جبارعمري په شمال کي د طالبانو والي پاته سوي دي که لږ نور هم له نیږدې ورته وګورو ، د هوتک قوم سره تړاو لري او ملاعمر هم د هوتک قوم تومزي ښاخ پوري تړاو لري د ملاعمر پلار او نیکه په همدې (زابل)ولایت کي اوسیدلي دي چي بیا له دې ځایه کوچېدلي دي نو له دې کبله ملاعمر په کندهار او روزګان کي لوي سوي دي هغه د زابل دځایي محرکي قوې ته د چل ورکولو لپاره د جبار عمري کومک ته اړتیا لرله شاوخوا دوې ورځې وروسته چي کله یي واک ملاعبیدالله ته وسپاري، ملاعمر همالته کندهار کي پاته وو، خو د ډسمبر پر ۷ مه کله چي رمسفیلډ د کرزي د بخښني پیشنهاد رد کړ ، ملاعمر ښار پریښودي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

11 See also Gopal, A. (2014). *No Good Men Among the Living: America, the Taliban and the War Through Afghan Eyes*. New York: Metropolitan Books.

12 See *A Man and a Motorcycle*, Watt & Borger (2001, December 7) Taliban promise to surrender Kandahar, *The Guardian*. Retrieved from https://www.theguardian.com/world/2001/dec/07/afghanistan.julianborger; Knowlton, B. (2001, December 7). Rumsfeld Rejects to allow Mullah Omar 'to live in dignity': Taliban fighters agree to surrender Kandahar. *The New York Times*. Retrieved from https://www.nytimes.com/2001/12/07/news/rumsfeld-rejects-planto-allow-mullah-omar-to-live-in-dignity-taliban.html

13 Ibid. See also Coll, S. (2108). *Directorate S, The C.I.A. and America's Secret Wars in Afghanistan and Pakistan*. Penguin Books; Colgan, J. (2001, December 7). Fall of Kandahar appears imminent. *ABC Local Radio*. Retrieved from http://www.abc.net.au/am/stories/s434693.html



Courtesy www.pdfbooksfree.pk




**Diagram of Mullah Omar's hideout in Qalat.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرمې شاوخوا، دوه موټران د نساجي د وړيو له فابريکې څخه تېر سول دغه سړک د کندهار او کابل پر لويه لار پروت دي . په دغه کاروان کي لنډکروزر چي جبار عمري او سپين ټويوټا ويگن ملاعمر او دوه نور کسان پکښې سپاره وه . جبار عمري د هغو دوو کسانو د راښودلو څخه ډډه وکړه خو د نورو مرکو په ترڅ کي دا معلومه سوه چي ملاعزيزالله څوک چي د ملاعمر (باجه)د دوهمې مايني د خور ميړه دي ورسره په موټر کي شتون درلود. ماښام ته دوي د زابل مرکز قلات ته

ورسيدل .

پورتني ډاياگرام د ملاعمر پټنځاي دي چي د کندهار شمال شرقي سيمي په ۱۲۵ ميله کي پروت دي او زابل يو ايډيل پټنځاي سو.زابل هغه ځاي و چيري چي طالبانو ځان بيخطره احساساوه

عبدالرحمن هوتکي د سيمي پخواني اوسيدونکي راته وويل، له کومه راهيسي چي د طالبانو حکومت ړنگ سو له هغه وخته د ولايت مرکز د قومي مشرانو په واک کي وو چي طالبانو ته وفادار و . هوتکي يو کال له مخه طالبان پرې ايښي و او خپل کور ته چي په شينکي اولسوالۍ زابل ولايت کي يي موقعيت درلود ستون سوي و ، او د طالبانو څخه د تښتيدلو مشرانو سره يي ليدنې کولې . د هوتکي په خبره، دوي ټولو (طالبانو)غوښتل چي تسليم سي . خو د کرزي څخه خوابدي سول (ولي چي امريکايانو د طالبانو سره ده ته د سولي واک نه ورکوي) طالبانو د کرزي څخه شکايت وکړ چي ده پر خپله وعده وفا ونه کړه

په زابل کي حالت هغه وخت ډير ژر بدل سو کله چي حميدالله توخي د امريکايانو په ملاتړ واک ته ورسيدي . توخي د گلبدين حکمتيار( د حز ب اسلامي د مجاهدينو گروپ مشر) د طالبانو سرسخته دښمن سره ډير نيژدې پاته سوي و لکه شيرزي په کندهار کي ، توخي په زابل کي پر کور ناست طالبان په نښه کول چي له دې کبله اکثره طالبان همسايه پاکستان ته وغورځيده . جبار عمري پوهيدي چي ملاعمر ته په پاکستان کي يو ښه او ارام ژوند برابرولاي سي خو طالبان هلته هم په نښه کيدل

طالب کولاي سي چي د پاکستان تر نظر لاندي د قومي مشرانو،مذهبي مشرانو او غټو تجارانو په کومک هلته واوسيږي

په پرتليزه توگه زابل د افغانستان د غريب ترينو ولاياتو څخه شميرل کيږي . و طبي خدماتو ته ډير کم لاس رسي لري ،او د دوي د اوسيدو حالت ډير پخواني او ابتدايي دي . لاکن ملاعمر پر پاکستان د باور نه درلودلو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

کبله همدلته اوسیدل غوره کړ. هغه جبار عمري ته وویل ، هر څه چي کیږي هغه پاکستان ته نه ځي . د ۱۱/۹ د پیښي څخه وروسته پاکستان په زغرده د ترهګرۍ پر وړاندي و امریکا ته د کومک ورکولو غوښتنه وکړه او د طالبانو د نیولو وعده یې ورسره وکړه . هغه طالبان چي په پاکستان کي یې ارتباطات نه لرل هغه اوس د امریکا په پټو زندانو کي ورک دي او یا د پاکستان په کومک سره ګوانتانامو ته ولیږدول سول

جبار عمري پریکړه وکړه چي که پاکستان نه وي نو قلات تر ټولو محفوظ دي . ښار ډیر کوچنی و

جبار عمري راته وویل ، چي ده عبدالصمد استاذ هم په دې کیسه خبر کړ چي د جبار د ډیر وخت د طالبانو موټړوان پاته سوي و خو اوس یې په قلات کي ټیکسي چلول ، استاذ په ۲۰۰۷ م کال کي وفات سو

ما څو ځله د ۲۰۰۱م کال وروسته د ملاعمر په ژوند کي د نوموړي ، د ده نیژدې ملګري زړګي او داود ګلزار لاس لرل کره کړل ، د هوتکو قومي مشر او د زابل د سولې د شوراي پخواني رییس .

جبار عمري دا پریکړه وکړه چي دي او ملاعمر د استاذ په کور کي پټیداي سي ، چیري چي استاذ له خپلې کورنۍ سره اوسېدي . دا ختیځ کور د زابل د والي توخي ودانۍ ته ډیر نژدې او د پښو د مزل لاره وه ، جبار عمري د کور د اصلي موقعیت د راښولو ډډه وکړه چیري چي ملاعمر پټ وو له دې بیري چي افغان حکومت به هغه کور وسوځوي ، او که دوي د ملاعمر قبر پیدا کړي دوي به یې لوټ کړي جسد به یې راوباسي او په کوڅو کي به یې وغورځوي ، له دې وجهي ما د هغه ځاي شاوخوا درته په نښه کره چیري چي ملاعمر اوسیدي موږ دا پریکړه کړیده چي دا ځاي به چا ته نه په ګوته کوو

14 Despite this, one wing of Hizb-i-Islami would join the Afghan insurgency, leading the U.S. to erroneously conclude that Hekmatyar and Mullah Omar were in cooperation.

15 Examples of such cases include ex-Foreign Minister Mullah Abdul Salam Zaeef and ex-Governor of Herat Khairullah Khairkhwa.



Courtesy www.pdfbooksfree.pk

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جبار عمري له قوله ، د استاذ کور یو پخواني کلا چي شاوخوا يي ختين ديوالونه او غټ غولي او پر یوه ليکه پرتې خونې يي لرلې او ملاعمر په یوه غټه خونه چي د سراي په کونج کي يي موقعيت درلودي ميشته سو

دې خوني ښکاره دروازه نه درلوده، یوه پټه دروازه يي لرل چي د صندوقونو د ايښودولو ځاي معلوميدي ، د استاذ کورنۍ او ښځه يي لا په دې نه وه خبره چي د کونج په کوټه کي ملاعمر اوسيږي استاذ يوازي دا ورته ويلي وو چي د طالبانو د وخت د لومړۍ کرښي قوماندان دي چي زموږ کومک ته اړتيا لري ، او ګواښ يي ورته کړي که چيري دوي چا ته حال وويل ټول به ووژل سي ما خپله ښځه ويرولې ده استاد خپل ملګري وکيل زړګي ته ويلي وو.استاذ د امکان تر حده خپله ښځه او قريبان د کونج له خوني ليري ساتل .

کله چي به استاذ ټيکسي چلول جبارعمري به خپل ډير وخت له ملاعمر سره په خونه کي تيراوه . جبار وويل ، چي ملاعمر هيڅکله د باندي وتلو ته له دې ويري زړه نه ښه کاوه چي وبه نيول سي . جبار عمري ويل چي له څلورو کلو اوسيدو پس موږ په دې کور کي ځان څه نا څه خوندي احساسوي . په اولني کلو کي په قلات کي د فوځ شتون محدود و، امريکايي او اتحادي فوځونو به په نيژدو ساحو کي فوځي بيسونو ته الوت کاوه ، کندهار ته به يي د يوې يا دوو شپو لپاره پرواز کاوه او بيرته به راتله . طالبان پاشل سوي او مات سوي وه او ځيني تسليم سوي وو . د معتصم اغاجان په خبره ، چي ګروپ په ۲۰۰۴م کي بيا فعال سو او د امريکايانو ګزمې هم ورسره ډيري سوې .د دې څلورو کلو په موده کي امريکايي ځواکونه دوه ځله هغه کور ته نژدې راغله چيري چي ملاعمر اوسېدي . یوه شپه فوځيان زموږ ګاونډ ته راغله هغه وخت ملاعمر او جبار عمري له کوټې د باندي ګرځيدل اوکله چي يي د دوي د پښو بږغ واوريدي د لرګيو د غټې خرې تر شا پټ سول ، خو فوځيان د عمري په کور کي شتون نه درولودي چي بيا دننه رانغله او بيرته سمدلاسه ولاړه . په دوهم ځل جبار وروسته په کيسه خبر سوي وو . خارجيان په کور دننه سوي وو بيله د کونج له کوټې چي دراوازه يي پټه وه نوري ټولې يي تلاښي کړې وې . جبار عمري وايي چي زه نه يم خبر چي په ملاعمر په سي به راغلي وو او که به يي همداسي د معمول سره سم ګزمه کول

په کال ۲۰۰۴م کي ، امريکايانو لګمان بيس جوړ کړ چي د ملاعمر د اوسيدو له ځايه يوازي د پښو د يو څو دقيقو مزل و

څرنګه چي فوځي انجينرانو بيس جوړ کړ ملاعمر پريکړه وکړه چي نور د تللو وخت دي . د استاذ په کومک ،دي او جبار عمري سيوري ته انتقال سول، هغه اولسوالي چي د قلات ښار په

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنوب ختځي سيمي په شل ميله کي پرته ده . د ۲۰۰۱م کال څخه دا د غتي اولسوالۍ شينکۍ يوه برخه ګرځيدلې وه . د علاعمر د پلار کورنۍ د سيوري څخه کوچېدلي و . جبار عمري او عبدال استاذ دواړه په همدې کلي کي زيږيدلي و . په ۲۰۰۵م کال کي دا اولسوالي د طالبانو څخه ډکه اولسوالي د طالبانو په اولسوالۍ پيژندل سوې وه .د ځيني امنيتي خطراتو له کبله جبار عمري د ملاعمر د پټيدو دوهم ځاي په دقيق ډول نه په نښه کوي ، خو د قلات او سيوري د حکومت د پخواني غړو او قومي مشرانو څخه تر مرکو وروسته دا په ډاګه سوه چي د سيوري په يو خاص کلي کي اوسيدي چي د کوچني ويالې پر غاړه پروت دي . استاذ وروسته خپل ملګري زړګي ته وويل چي د غتې ختيني کلا شاته د ګني ګوني څخه ليرې او د عمومي څرک څخه په ۳ ميله کي مو ملاعمر ته يوه جونګړه جوړه کړه . يوه کورنۍ هم په دې ختين کور کي اوسېدل . او يوازي دوه وررونه په دې پوهيدل چي په جونګړه کي څوک اوسيږي . جونګړه په وياله کي جوړه سوې وه او د يو داسي تونل سره وصل وه چي د اوبو لپاره استعماليدي . د ملاعمر د رارسيدو سره سم امريکايانو دلته هم يو عملياتي فوځي بېس د ولورين په نامه جوړ کړ شاوخوا درې ميله د ده اوسيدلو د ځاي څخه پروت وو. دغه ايف . او . بي ولورين کمپ په جوړ سوي کانتينرانو سمبال دفترونه لکه يو کانتين او يو د سپورټ ځاي لرل ، چي شاوخوا زر فوځيان پکښي ميشته وو، چي د بغاوت د ځپلو د عملياتو او دوام لرونکي ازادۍ تر نامه لاندي يي عمليات ترسره کول . په ۲۰۰۷م کال کي د لتوانيا هيواد سرتيري دې کيمپ ته راغلل ترڅو د زابل محلي افغاني پوليسو ته روزنه ورکړي او کله کله به د برتانيي خاص هوايي او د امريکا بحري فوځونو به هم حضور درلود. په نوموړې سيمه کي افغان او خارجي قواوو هغه وخت خپل تګ راتګ زيات کړ کله چي انجينرانو د قلات څخه ترسويني ايف. او . بي بېس شينکۍ پوري غځيدلي ديرش ميله څرک پوخ جوړ کړ کوم چي تر سيوري پوري رسيدلي دي

جبار عمر ي وويل چي ،دا ځاي هم زموږ لپاره ډير خطري سو . امريکايي طيار ې به د دې د سر له پاسه تيرېدې، پياده فوځونه به نيژدې تيريدل او طالبانو پر تيريدونکو امريکايي فوځونو بريدونه کول ، له دې ډاره چي ونه نيول سي ملاعمر به اکثره وخت په تونل کي پټ و . کله ناکله به زموږ او خارجي قواوو ترمنځ يوازي د يوه ميز په اندازه فاصله وه . د خارجي قواوو د شتون سره سره به جبار عمري خپل کورنۍ چي عمرزي سيمي کي اوسيدل تګ راتګ کاوه چي له جونګړي څخه شاوخوا شپږ ميله ليري و او د ولورين بيس څخه درې ميله فاصله کي و .جبار عمري به له کورنۍ سره د پنځو څخه تر لسو ورځو تيرولې او بيرته به ملاعمر ته راتلي، عمرزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلي ته تګ له خطره خالي نه و ، نو له دې کبله به اکثره د شپې لخوا کور ته تلي . د رسنيو د رپوټو له مخې ، امریکايي قوماندانان به د سيمي له کليدي مشرانو سره ليده کاته کول د دې لپاره چې د طالبانو پر ضد د جنګ لپاره د امریکايي او افغان فوځونو لپاره د دوي د ملاتړ څخه برخمن سي .

18 A picture of this mission was taken on October 31, 2009 and can be found here: https://tinyurl.com/yyt6wl8x

19 Fox News (2001, December 8). Omar thought to remain in Kandahar as Taliban flee. Retrieved from https://www.foxnews.com/story/omar-thought-to-remain-in-kandahar-as-taliban-flee-city

20 Shah, S. (2011, July 11). CIA organised fake vaccination drive to get Osama bin Laden's family DNA. *The Guardian*. Retrieved from https://www.theguardian.com/world/2011/jul/11/cia-fake-vaccinations-osama-bin-ladens-dna



Courtesy www.pdfbooksfree.pk

دا چې د سيمي خلګو له طالبانو سره خواخوږي لرل له دې کبله بغاوت ورځ تر بلې په زياتيدو و . جبار عمري له دې وجهي خوابدي و چې د ساتني لپاره يې هيڅ چا ته نه سواي ويلاي ، جبار عمري ماته وويل ،موږ طالبانو ته دا نه سول ويلاي چې موږ ته نيژدې دي له حملو سره احتياط وکړي ولې چې زموږ د پټيدو ځاي ته خطر پيښولاي سي . خو ځايي خلګ په دې پوهيدل چې دلته طالبان اوسيږي . خلګ د حکومت د فساد او امريکايانو د تيريو له کبله په حکومت پسي راپورته سول ، دوي جبار عمري او د ده نامعلوم انډيوال ته د ډوډۍ او کالو وړانديز کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لټون :

سره له دې چې افغان او امریکایی استخباراتو دا ادعا کوله چې ملاعمر په پاکستان کې دی ، خو له پیله ځینو چاروا کو اشاره کوله چې کیدای سي ملاعمر به د دوی تر پزو لاندي (دوی ته ډیر نیژدې) پټ وي . د دسمبر ۲۰۰۱م په پیل کي کرزي خبریالانو ته وویل چې ملاعمر زابل ته تښتیدلی دی . افغان چاروا کو د نوموړي په پټه لټون کاوه

ولایتي استخباراتي مامورینو جبار عمري تر شک لاندي ونیوي چې له ملا عمر سره یې تړاو درلودي ، دوي د جبارعمري نوم په ۲۰۰۱م کال کي اوریدلي و کله چې څو طالب مشران په قلات کي و محلي استخباراتي ایجنټانو د جبار عمري د کور څارنه کوله او په دې وپوهیدل چې نوموړي اکثره وخت له کوره د باندي وي . د دوي د شک دایره نوره هم زیاتیږي.

عطاجان وویل ، زه او زما همکاران چې د زابل له دغه سیمي سره تړاو لرو ، نو هر سړي یو له بل سره پیژني

عطاجان یو قومي مشر ، چې بیا ولایتي شورا ته ولاړي او له استخباراتو سره یې د نیژدې کار کړي دي ماته وویل ، موږ شکمن و چې عمري اوس هم له ملاعمر سره دي ، کله چې به دي پر کور نه و خو د پټو معلوماتو پر بنسټ د طالبانو سره هم نه و لیدل سوي. کله چې عطاجان واوریدل چې د عمري ښځې ماشوم زیږولي دي نو دي پوه سو چې جبار عمري دلې دي . عطاجان ماته وویل چې چاروا کي پسي وګرځیدل استخباراتو د ده د همسایه ګانو څخه د عمري په اړه پوښتنې ګرویږنې وکړې خو پیدا یې نه کړ.

د عطاجان په خبره ، زابلي چاروا کو حامد کرزي ته د دوي د شک په اړه وویل چې ملاعمر د دوي په ولایت کي دي . عطاجان ادعا وکړه ،چې بیا کرزي امریکایانو ته خبر ورکړ چې دوي باید په زابل کي تلاښ پسي وکړي . خو امریکایانو پر کرزي باور ونه کړ ، هغوي وویل ، چې هغه په پاکستان کي دي. (محمد یوسف سها) د کرزي ویاند وویل ، چې کرزې د دې موضوع په اړه معلومات نه لري.

عطاجان دا هم ادعا وکړه ، چې کرزي ولایت ته جعلي ډاکټران راواستول لکه امریکا چې د بن لادن لپاره رااستولي وو چې ملاعمر ونیسي . د ډاکټرانو څخه یو یې د احمدولي معاون و د کرزي میرېزي ورور (خو معاون د څه ویلوڅخه ډډه وکړه)

اخرکار زابلي چاروا کي پر عبدالصمد استاذ هم شکمن سول د جبار عمري د ډیر وخت موټروان ، د چا سره چې ملاعمر د ۲۰۰۴م کال راهیسي اوسیدلي و . استاذ د یاغي فعالیتونو څخه لیري ټیکسي چلوي د دې لپاره چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

چارواکو شک له ځانه وکاږي . د قلات د محلي هوتکو مشر داود ګلزار وویل ،نوموړي د قلات قومي مشرانو ته د دې لپاره اړتیا لرله چې د ځان ساتنه وکړي

.

21 However, when asked why N.D.S. had publicly accused Pakistan of sheltering Mullah Omar when, in fact, they had no strong evidence he was there, the official declined to answer.



Courtesy www.pdfbooksfree.pk

. په وخت کي ګلزار ، چي اوس د اشرف غني مشاور دي ، هغه وخت د زابل د سولې د عالي شوراي رییس و. کله چي به د زابل استخباراتو د استاذ څخه پوښتني کولې ، استاذ به ګلزار ته ورغي او هغه به د ده په نشتون کي دفاع کوله .ګلزار راته وویل ، چي عسکر به ولاړه ولي چي ما ورته وویل چي استاذ بیګناه دي . وروسته زه پوه سوم چي استاذ ملاعمر ساتي زه په دې هیڅ خبر نه وم

په ۲۰۰۹م کال کي اولسمشر بارک اوباما ۳۰۰۰۰ نور عسکر افغانستان ته واستول چي بغاوت مات یا وځپي ، خو امریکا بیا هم په دې ونه توانیدل چي ملاعمر ومومي. دوي چي د ملاعمر په اړه هر څه وویل خو په حقیقت کي سي اي اې او پینټاګون د مشر په اړه ډیر لږ معلومات لرل .

هغه معلومات چي د ایډورډ سنوډن لخوا افشا سول (بلانکو). داښي چي د ملاعمر په تړاو فوځي معلومات یو څو ځله وښودل سوه چي د نوموړي د فعالیت یا ځاي په اړه یې خاص معلومات نه درلودل

وروسته، کله چي د ملاعمر مړینه اعلان سوه ، ما د امنیت ملي د یو لوړپوړي چارواکي سره خبري وکړې ، په دوي کي یوه دا تایید کړه چي ملاعمر له جبار عمري سره په زابل کي اوسیدلي دي . نوموړي چارواکي د نوم نه افشا کولو په شرط دا ومنل چي ملاعمر څلور کاله په زابل ښار کي په داسي حال کي اوسیدلي چي د ولایت مقام او د امنیت ملي د دفتر سره یې د څو متره فاصله لرله .

چا چي دي ساتي وویل، امریکایانو ټول کورونه تلاښي کړه خو چي دي یې څنګه نه کي پیدا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

21 However, when asked why N.D.S. had publicly accused Pakistan of sheltering Mullah Omar when, in fact, they had no strong evidence he was there, the official declined to answer.



Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## ملاعمر او پاکستان :

امریکایانو له ډیره وخته ملاعمر ته د پاکستان او د دوي د استخباراتو د لاسپوڅي په نظر کتل ، د دننه استخباراتي کړی، مبصرین ، په هغه وخت کي، دا تلقین کوي چي ملاعمر او نور دسر طالب مشران په مذهبي او نظریاتي لحاظ د پاکستاني مدرسي تر تاثیر لاندي دي

مولانا سمیع الحق د اکوړه ختک د دارالعلوم مشر او پاکستان دا په واضح ډول دا ادعا کول ، چي ملاعمر او انډیوالانو یي هلته درس لوستي دي . په حقیقت کي څیړنه دا ښیي چي ملاعمر پخپله او زاړه ملګري یي هیڅکله په پاکستان کي درس نه دي لوستي . ملاعمر غیررسمي درس د روزګان ولایت د مساجدو په حجرو کي لوستي دي چي له صوفي ازم (طریقت) څخه سرچینه اخلي . لکه څرنګه چي ما په خپل کتاب (د دښمن په تلاښ )کي لیکلي، چي ملاعمر د شوروي سره د جهاد ( د امریکا او پاکستان په ملاتړ) په وخت کي یوازي دوه ځلي پاکستان ته تللي دي ،اول چي د کوټي په روغتون کي د خپلي ټپي سترګي درملنه وکړي او دوهم ځل هغه وخت کله چي مجاهدین پخپل منځي جګړو کي ښکیل سول دي ولاړي چي وسلې راټولي کړي

پاکستان په نړۍ کې یو له هغو دوو هیوادو څخه و چا چي نوي رژیم په رسمیت وپیژاند.

کله چي طالبان واک ته ورسیده په دې وخت کي، د پاکستاني استخباراتي کړیو او مدني ټولنو سازمانو ترمنځ اړیکي پراخي سوې . خو بیا هم ملاعمر خپل ځان له اسلام اباده لیري وساته او د یو نه اټکل کیدونکي ملګري په توګه یي برخورد کاوه . ملاعمر پاکستاني خیریه موسساتو ته ، د سړکانو بیارغول او د ټلیفوني شبکو د جوړولو اجازه ورکړې وه ، او اسلام اباد ته یي اجازه ورکړې وه چي د شمالي اتحاد پر وړاندي په جنګ کي ورسره کومک وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

1 Gopal, A. (2016). The Combined and Uneven Development of Afghan Nationalism. *Studies in Ethnicity and Nationalism*, 16(3), p. 478-492.
2 Dam, B (2019). *Op Zoek Naar Een Vijand, Het Verhaal Van Een Terrorist Die Een Vriend Wilde Zijn*. Amsterdam: De Bezige Bij.
3 Ibid.
4 Two interviewees told me several examples about the troubled relationship between the two men: Mutasim Agha Jan, and a friend of Mullah Omar, Doctor Baluch, who was also present during this particular meeting about Zaher Shah.

خو سياسي مداخلې هغه څه وې چې ملاعمر اکثره وخت نه منلې . لکه پاکستاني جنرال محي الدين حيدر ماته وويل چې موږ ډيري هڅې وکړې چې ملاعمر د بودا د مجسمې د نړولو او اسامه بن لادن ته د پناه ورکولو څخه منع کړو خو راسره وې نه منل . په امريکايي رسنيو کې د اي ايس اي پخواني مشر جنرال حميد گل چې د طالبانو د پلار په نامه هم پيژندل کيږي ،ماته وويل چې نوموړي پر ملاعمر واک نه درلود. حميدگل زياته کړه چې د طالبانو د مخالف حزب اسلامي د ملاتړ له کبله ده ته په کندهار کې هيڅکله ښه راغلاست ونه ويل سو. کله چې د پاکستان وتلي اسلامي سياستمدار مولانا فضل الرحمن غوښتل چې ملاعمر د پخواني باچا ظاهرشاه سره د يو ځاي کار ته اماده کړي ، د طالبانو مشر ورته وويل چې ته ولې اول د اسلامي نظام لپاره کار نه پيلوې ؟مطلب ته اول په خپل هيواد کې اسلامي نظام راوله بيا خبري کوه

## ملاعمر او طالبان :

د جبار عمري په وينا ، ملاعمر چې د کندهار په غونډه کې ملاعبيدالله ته واک وسپارلې و ژمن پاته سو

په ۲۰۰۳م کال ، ملاعمر په کيسټ کې د خپل بږغ د ريکارډولو له لاري ملاعبيدالله او د هغه معاون ملابرادر چې په کوټه کې اوسيدل هدايات وليږل ، چې په دې کيسټ کې يې د طالبانو د شوراي د غړو د نامه په يادوني سره دا ورته وويل چې ملاعبيدالله د امارت نوې مشر دي او ټول به د هغه تر مشري لاندي کار کوي

د جبار عمري په وينا، ملاعمر په کوټه کې هر مشر ته د ډير نيژدې ملگري په سترگه کتل هغه په ملاعبيدالله ډير باور درلودې او غوښتل يې چې د امارت مشري په غاړه ولري ، د جبار عمري په خبره ، ملاعمر فکر کوي چې د ملاعبيدالله د وړتيا له کبله اوس دې کولاي سي چې ډيري کارونه ملاعبيدالله پر مخ يوسي .

کيستې د يو هغه پيغام رسونکي په توسط کوټي ته استول کيدې ، چا ته چې د يو څو محدودو کسانو په شمول د ملاعمر د اوسيدو ځاي معلوم و . د جبار عمري په وينا، دغه پيغام رسونکي د درو څخه د اوو مياشتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ کي د ملاعمر سره ليدل ، جبار عمري د پيغام رسونکي د شهرت د ښکاره کولو څخه ډډه وکړه، خو په هر صورت د اوسني طالب غړي معتصم اغاجان سره په مرکه او د امنيت ملي د معلوماتو پر بنسټ پيغام رسونکي ملاعزيزالله و چا چي د ملاعمر د ښځي سره خپلوي لرله ( د ملا عمر باجه ) ( اوس د ځان د ساتني په خاطر پټ دي ، د ملايعقوب سره ډير نژدې دي . د ملاعمر زوي ماته وويل ، په تحريک کي ډير کسان له ده څخه په دې ناراضه دي چي ولي دي د مشر په خبره دملاعمر د مرگ خبر تر ډيره وخته پټ ساتلي و.

د جبار عمري په خبره ، پيغام رسونکي به د کوټي د شورا په غوښتنه ملاعمر ته راتلي ، ملاعمر هيڅکله دي نه دي راغوښتي ، جبار عمري ويل ، پيغام رسونکي به هغه وخت ملاعمر ته راتلي کله چي به د کوټي شوراي به د يو مسالې په حلولو کي پاته راغله . د شوراي نورو غړو دا تاييد کړه چي د ۲۰۰۳م کال وروسته ملاعمر د دوي سره افهام و تفهيم يا خبري نه دي کړي .

جبار عمري وويل، چي يوازي يو بل کيسټ مو په ۲۰۰۷م کال کي هغه وخت واستوي کله چي د طالبانو نامتو قوماندان ملا دادالله په هلمند کي ووژل سو، او د ده ميرېزيورور منصور دادالله (چي وروسته د ملادادالله ځاي ناستي سو) دوه طالبان د ملا دادالله د وژلو په تور زنداني کړي ول . جبار عمري وويل چي په دې کيسټ کي ملاعمر د بنديانو د ژر تر ژره د ازاديدو غوښتنه وکړه ، خو دا معلومه نه ده چي پيغام به منصور دادالله ته رسيدلي وي او که نه خو نوموړي د هغه دوه زندانيانو سرونه پرې کړل . ملاعمر د کوټې د مشرانو سره هغه وخت د کيسټو له لاري افهام وتفهيم ودروي کله چي پيغام رسونکي د لنډ وخت لپاره پاکستان بندي کړ . د کيسټو پر ځاي به يي پيغام رسونکي سره مستقماً دوه په دوه خپلي خبري کولې ، وروسته به دا خبري پيغام رسونکي د کوټي شورا ته رسولې ، جبار عمري وايي چي په دې مجالسو کي ما ته هم د گډون اجازه نه وه.

جبار عمري وويل، چي زما رول ملاعمر سره د ده ساتنه کول، ډوډۍ ، کالي او سرپناه برابرول و ، خو د پيغام رسونکي سره تر مجلس وروسته ماته دا معلومه سوه چي د کوټي شورا د قطر د دفتر د دې لپاره چي له امريکايانو سره خبري وکړي سره مخالفه ده او غوښتل يي چي د ملاعمر نظر وپوښتي خو ملاعمر ورته وويل چي دي د دې اقدام ملاتړ کوي

د جبار عمري په وينا، چي ملاعمر د طالبانو د عملياتو په مديريت کي يي ډيرکم رول درلودي خو د دې ادعا تصديقول له دې وجهي سخته ده چي د کوټي د شوراي اکثره غړي وفات سوي دي . خو په هر ترتيب د( ملاعمر او طالبان )په نامه کتاب چي عبدالحي مطمين (د ملاعمر پخواني وياند) ليکلي دي وايي چي ملاعمر له ډيره وخته د عملياتو په پريکړو کي بوخت نه دي پاته سوي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي وايي ملاعمر هغه پيغامونه چي ده اوريدلي دا فکر کوي چي نوموړي يوازي د يوه روحاني مشر په توګه رول ادا کوي .


Kushal Khan, West Kabul, Afghanistan. (Photo: Bette Dam)

جبار عمري راته وويل ، چي له کومه وخته چي ملاعمر د طالبانو له مشري څخه ليري او پټ سوي و په ډيره اندازه له دې نړي څخه وتلي (ترک دنيا)و .په سيوري کي دي په ډيره سختي له خپلې جونګړې راوتي ، يوازي به په ژمي هغه هم هغه وخت کله چي د پيتاوي لپاره د کم وخت لپاره کښينستي چي په لمر ځان تود کړي

چي کله به موږ خبري کولې ډير به په ارامه ږغېدو او دروازې ته به مو بالښتان او واښه ايښوول چي څوک مو خبري وانه وري . جبار عمري پوښتنه ځيني وکړه چي کورنۍ خو به يي نه ياديږي په ساده توګه يي د سر په ښورولو د نه جواب ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده د ملا يعقوب د ليدو وړانديز ورته وکړ ، خو ملاعمر رد کړ. بل وخت عمري ورته په افسوس ورته وويل چي موږ هيڅ ځاي نه سو تلاي ، ملاعمر په جواب کي ورته وويل چي دا به د خداي پيرزوينه وي چي موږ دلته و اوسو

جبار عمري ته د لوښو پريولو او ډوډۍ برابرولو ور اخوا بل کار نه و . ملاعمر دا غوره ګڼل چي په يوازيتوب کي ډوډي وخوري او عبادت وکړي ، او کله ناکله به يي د ځان لپاره خپله ډوډۍ پخول .

په ځينو وختو کي به موږ دوو هغه وخت سره مخامخ کيدو چي د لمانځه لپاره به مو په پخلنځي کي اودس کاوه ، هغه ډيري خبري نه کولې ، جبار عمري وويل ،هغه د غوښتنو يا فرمايشونه لړۍ غوځه کړې وه . هغه به يوازي د نکريزو غوښتنه کوله چي خپله شناوي ږيره به يي په منظم ډول په رنګول او نسوار به يي غوښتل او په خپله کښتنۍ شونډه کي به يي ايښوول .جبار عمري وويل ، په سيوري اولسوالۍ کي هغه يو ځل د کوربه کورنۍ د دوو ورونو سره هغه وخت وکتل چي د سودا لپاره يي ورته پاکستاني پيسې ورکړې ، هغه د يوازيتوب سره مينه درلوده .

ملاعمر په ډيري سختي سره د نړۍ پر مسايلو او سياست خبرې کولې ، په پخلنځي کي به نوموړي بي بي سي پښتو خپروني په منظم ډول اوريده ، لاکن جبار عمري اشنا راډيو د دري خپروني اورېدې ،هغه به کله کله خبرونو ته عکس العمل ښود.کله چي د عربو پاڅيدنه په ۲۰۱۱م کال کي وځپل سوه ملاعمر جبار ته وويل چي دا به عربي نړۍ لپاره ستر ناورين سي

هغه به د خپل ځاي ناستي ملاعبيدالله پر نيولو هم خاص غبرګون ونه ښود. څوک چي د پاکستانيانو لخوا په ۲۰۰۷م کال کي ونيول سو او په ۲۰۱۰م کال کي په زندان کي وفات سو . په کومه ورځ چي اسامه بن لادن ووژل سو ، جبار عمري د امريکا ږغ راډيو په توجه سره اوريده ملاعمر وويل ، دوي ولي د ده نوم تکراروي ولي چي دي په دري نه پوهيدي ، کله چي جبار عمري د اسامه بن لادن د مرګ خبر ورسره شريک کړ، هغه هيڅ ونه ويل . ملا عمر د ۱۱/۹ څخه نړيوالو ته ډير پيژندل سوي کس نه و لکه مطلوب بن لادن .

هغه په دې خاطر بن لادن وساتي چي ده نه غوښتل چي امريکا ته ځان کمزوري او ورته تسليم سي ، هغه د وخت غوښتنه کول چي دې مسلې ته يو ډيپلوماتيک حل ولټوي .هغه پر سيکولر محاکمو هيڅ باور نه درلود ، او ويل يي چي يوازي اسلامي محاکم کولاي سي چي په هره خوا کي انصاف قايم کړي .

د جبار عمري په وينا، هغه هيڅکله د بن لادن او د هغه د تسليمي د پريکړي په اړه بحث نه وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که کله هم هغه د جبار عمري په مخ کي القاعده په اړه خبري کړي دي، يوازي يي د هغوي د اسلام په اړه پر هغه وهابي نظرياتوبه يي اعتراض کاوه چي د افغان دوديزو مذهبي عقايدو سره به يي توپير درلود .

هغه به د وهابيانو د قران ټکي په ټکي ژباړه باندي اعتراض کاو

که چيري ته پوهيږې چي خداي چيري اوسيږي ، تا له هغه څخه انسان جوړ کړ ، چي هغه نه دي ، جبار عمري د ملا عمر وضاحت په ياد کړ.

ملاعمر به اکثره وخت د قران شريف او نور مذهبي کتابونو په لوستلو کي ډوب و . هغه به خپل ساتونکي ته ويل چي دا ماته خوشحالي رابښي ، هغه به جبار عمري ته د قران شريف اياتونه لوستل ، جبار عمري د خپل مشر له تقواي څخه ډير اغيزمن و . جبار عمري وويل هغه بيله قران او حديثونه نور څه نه مطالعه کول . په ساعتو ساعتو به هغه په ژورو خيالو او فکرو کي په پټو سترګو په يوه حالت ناست و . هغه به په دې حالت کي ډير خوشحاله و . هغه د حکومت سره سره هر څه هير کړل فکر نه کوم چي هغه دي په هغه وخت په سي ارمانجن و .

يوه غرمه جبار عمري وليدل چي ملاعمرپه پټو سترګو ديواله ته ناست دي . هغه شمع چي اکثره وخت به د عبادت پر وخت بليده مړه سوې وه ، وډار سوم چي ملاعمر بيده سوي دي او لمونځ قضا نه کړي ، جبار عمري بړغ وکړي او په څنګل يي وښورولي چي ويښ يي کړي . ملاعمر د مزاحمت له کبله په قهر سو .

خو کله چي جبار عمري ډوډۍ راوړه ، ملاعمر له هغه څخه بخښنه وغوښته او ورته يي وويل ، انديواله ما وبخښه ، زه په ډير ژور فکر کي تللي وم ، ملاعمر ورته وويل چي ده د خداي په تخليق کي فکر کاوه

ځيني وختونه به ملاعمر قراني اياتونه په زاړه نوکيا ټيليفون کي ثبتول او بيا به يي وروسته اوريدل . هغه به د داسي ټيليفون څخه کار اخيستي چي سم کارډ به يي نه درلود. ملاعمر به د ټيليفوني تماس نيولو څخه ډډه کول ، جبار عمري ماته وويل چي هغه نه غوښتل چي معلوم سي د دې سره سره چي ده به اکثره وختونه د قران شريف اياتونه لوستل زما سره يي پخواني عربي ويلو هم پيل وکړ خو عام وختو کي به مو به پښتو خبري کولې .
عمري په دې باور و چي هغه د ولي درجې ته رسيدلي و ، په محلي دوديز طريقت کي هغه څوک چي د الله ج سره خاص روحاني تړاو لري او د هغه څخه پيغامونه ترلاسه کوي. جبار عمري ويل چي هغه هڅه کول چي دا الهامات وليکي خو هغه ماته وويل چي هغه خاص دي او اسانه نه دي چي وليکل سي . د جبار عمري په وينا، داسي معلوميدل چي هغه يوه نوې ژبه اختراع کړې وه چي ژباړل يي ډير ګران و (ملاعمر خپله يي په انساني ژبه ژباړلو ته عاجز و )

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۱/۹ څخه دمخه بل چا به لیکل او ده به امضا کول ، جبار عمري وویل هغه په دغه ژبه څلور کوچني کتابچې ډکې کړې چې عمري به یې د مرگ وروسته د ملاعمر زوي ته سپاري چې نړۍ ته یې وښایي .

22 See also Yusufzai, R. (2003, June 24). Omar Names Council to Resist Occupation. *The News*.

23 Interview with Mutasim Agha Jan; see also Mutmaeen, A. (2017). *Mullah Mohammad Omar, Taliban and Afghanistan*. Afghan Publisher. Mutmaeen describes the arrival of the first recording of Mullah Omar.

24 Mutmaeen, A. (2017). *Mullah Mohammad Omar, Taliban and Afghanistan*. Afghan Publisher.



Courtesy www.pdfbooksfree.pk

## اینده:

د ۲۰۱۳م کال په پیل کې ، ملاعمر ناروغ سو د ټوخې او استفراق شروع سو او جبار عمري ته یې وویل چې هغه نه رغیږي .جبار عمري هغه ته ښوراو جوړه کړه د ده د خوښې خواړه چې کمزوري یې په رفع سي خو هغه خوړلای نه سول . جبار عمري وایي داسي معلومیدل چې نور له دې نړۍ څخه د رخصت په درشل کې و ، کله چې جبار عمري و ډاکټر ته د تگ ضد وکړ خو هغه ډډه وکړه. د زړگي په وینا، استاذ ورته ویلي چې دي به یې د موټر له لاري پاکستان ته بوزي خو هغه انکار وکړ

د اپریل ۲۰۱۳م په ۲۳ مه ملاعمر له دې نړۍ څخه د ابد لپاره جلا سو .

جبار عمري ماته وویل چې په هغه ورځ ، توده ورځ وه، د جنوبي افغانستان وچو مځکو داسي څه تجربه کړه چې هیڅکله یې نه و لیدلي د بړلۍ طوفان ، ما فکر وکړ چې د سیلۍ بړغونه دي

خو وروسته ماته معلومه سوه چې پر ۲۳م د اپریل امریکایي نشراتو د دې ورځي په تړاو خبر ورکړ چې د یو بې ساري د بړلۍ د طوفان له کبله د کندهار په هوایي میدان کي ولاړي له ۸۰ څخه زیاتي الوتکي طوفان متاثره او خرابې کړې او بړلۍ هم هلته وسوه چیري چې د غونډ د نیمایي څخه زیاتي الوتکي ولاړي وې

د مړیني په شپه جبار عمري د دوو نورو کسانو په مرسته بیله کفنه په یو نامعلوم قبر کي ښخ کړ

بیا وروسته جبار عمري کوټې ته ولاړي او د ملاعمر ناسکه ورور عبدالمنان او زوي ملایعقوب یې راوستل ، که څه هم جبار عمري د ده د ښخیدو بهیر په ویډیو کي خوندي کړ تر څو یعقوب ته یې د ثبوت لپاره وړاندي کړي خو د ملاعمر مشر زوي ملا یعقوب ضد وکړ چې قبر خلاص کړي او په خپلو سترگو یې ووینی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي مو قبر وکيندي او جسد ته ورسيدو ملايعقوب احساساتي سو ، ۱۷ ورځي وروسته مو قبر د يو چا په غوښتنه بيا خلاص کړ (جبار عمري د هغه شخص نوم او د معلوماتو د ځرګندوني څخه ډډه وکړه) او جسد مو د لرګي په تابوت کي کېښود او بيا مو ښخ کړ.

جبار عمري ، يعقوب او عبدالمنان د ملاعمر په شيانو کي تلاښي وکړه په دې اميد چي د دوي لپاره به يي پيغام پرې ايښي وي خو هيڅ شي يي پيدا نه کړ، ملاعمر ترشا وصيت يا د خپل فاميل او تحريک لپاره هيڅ هدايات نه و پرې ايښي

د ښخيدو وروسته جبار عمري پاکستان ته ولاړي ترڅو د ملاعمر د مړيني خبر طالب مشرانو ته ورسوي .
ملااخترمحمد منصور د طالبانو د تحريک د عملياتو مسول ، لس لوړپوړي طالب مشران راټول کړل چي د جبار عمري سره ووينې

هغه په تفصيل سره ورته وويل چي دوي دوو څنګه دوولس کاله يو ځاي تير کړل . مشرانو ورته وويل چي که د دوي ستر مشر د خپل ځاي ناستي په اړه څه ويلي خو د جبار عمري جواب مايوس کن و. ملاعمر د طالبانو د اينده په اړه هيڅ شي نه دي ويلي يا چي څوک دي د ده ځاي ناستي وي . څلور عالمان چي په غونډه کي يي ګډون درلود څو ساعته په خپلو کي مشورې کولې او پريکړه يي وکړه چي ملااختر محمد منصور دي د عملياتي مشر په حيث خپل کار ته ادامه ورکړي ، خو علماو پريکړه وکړه چي د ملاعمر د مړيني او د منصور د مشري خبر دي پټ وساتل سي ، ولي چي امريکا د فوځ د وتلو اعلان کړي و دوي د امريکا د ماتيدو ژر هيله درلوده ،

،علما ډاريدل چي د ملاعمر د مړيني په اوريدلو سره به يي د امريکا د فوځ مورال بيا لوړ سي، په مجلس کي ټول کسان په دې پريکړه خوښ نه ول او د مشرتابه څخه يي د رشتيا او خلوص غوښتنه وکړه خو په اخره کي علماو د دوي سره موافق نه سول او زياته يي کړه چي د ملاعمر د مړيني په اوريدو سره به ژوري شخړي راپورته سي او د تحريک د پاشل کيدو سبب به وګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

25 Ashe, C. (2013, July). 3rd CAB weathers hailstorm. *The Falcon Flyer.* Retrieved from https://static.dvidshub.net/media/pubs/pdf_12280.pdf
26 Jabbar Omari refused to identify the helpers, though it was likely the brothers living in the house.



Courtesy www.pdfbooksfree.pk

د دوو کلو په جریان کي اوازو گردش کوي  او د طالبانو گروپونو به د مشرتابه د پټولو او چل کولو په اړه اعتراض کاوه ، یوه گروپ خو پر اختر منصور باندي د لوي مشر د وژلو تور پوري کاوه

بالاخره د ۲۰۱۵م کال په دوبي کي افغاني استخباراتو د ده مړینه اعلان کړه چي دوه کاله دمخه وفات سوي دي

طالبان مجبوره سول چي دا خبر تایید کړي ،اخترمنصور د شک په دایره کي راغلي و او د نورو غړو دښمني ورسره پیدا سوې وه . بدگماني هغه وخت له منځه ولاړې کله چي اختر محمد منصور د امریکایي ډرون لخوا په قتل ورسیدي او ملا هیبت الله د واک واگې په لاس کي واخیستې

لکه ملاعمر ملا هیبت الله هم پرهیزگاره او د حرص څخه لیري معلومیږي  چي کیداي سي له دې کبله د تحریک د اتحادسبب  او طالبان پر ده سره راټول سي

که څه هم  امنیت ملي خلکو ته دا ویل چي هغه د کراچي په یوه روغتون کي مړ سوي دي خو په داخل کي د نوموړي شتون په زابل کي او د عمري سره یې د اړیکو ښودلو هڅي کولې

په ۲۰۱۵م کال کي رسنیو لکه نیویارک ټایمز او  پولیتیکو په اټکلي ډول دا راپور ورکړ چي ملاعمر  په زابل ولایت کي مړ سوي دي . د زابل قومي مشر عطاجان  او امنیت  ملي د لوړپوړي مامور په وینا، چي اشرف غني عطاجان  او محلي استخباراتو ته دا وویل چي د ملاعمر د ژوند د کیسې لپاره جبار عمري راوغواړي او په ترکیه یا سعودي کي د باامنه ځاي وړاندیز  ورته وکړ ي ، خو د ملاعمر ساتونکي  وختي لا کوټي ته تللي و ، چیري چي طالبانو د کور وړاندیز ورته  کړي و  څه وخت وروسته ، جبار عمري  زابل ته راستون سو ، چي  عادي ژوند پیل کړي ، هغه وویل ، د زابل پولیسو ماته وویل چي د گزمې پر وخت یې د جبارعمري په موټر کي دوه توپکان پیدا کړل او بندي یې کړ ،  حال دا چي  دوي د عمري په اصلیت خبر نه و په زندان کي  جبار عمري دا پریکړه وکړه چي دي به خپل اصلیت ښکاره کوي او د اشرف غني د باامنه ځاي وړاندیز به مني ، خو وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هغه وړاندیز له منځه ولاړ ، جبارعمري په الوتکه کي کابل ته واستول سو ، چي نن سبا هغه د امنیت ملي په زندان کي ساتل کیږي

27 See also Mutmaeen, A. (2017). *Mullah Mohammad Omar, Taliban and Afghanistan*. Afghan Publisher, p. 348.



Courtesy www.pdfbooksfree.pk



Khushal Khan, West Kabul, Afghanistan. (Photo: Bette Dam)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایله :

څومره چي موږ پوهیږو ، ملاعمر د طالبانو د حکومت د رانسکوریدو څخه  وروسته  د طالبانو د راټولیدو هڅه نه ده کړې ، او نه یي د خلګو پر وړاندي د جرایمو (وژلو، ربړولو) کولو سپارښتنه کړېده او پر ځاي يي ځان له دې  مادي نړۍ څخه لیري کړ ، چي دا اقدام هم د طالبانو او هم د امریکا په ګټه تمام سو.

طالبانو د هغه څخه د تیت وپرک تحریک د یو موټي کیدو  لپاره کار واخیستي ،او د امریکایانو پالیسي لیدلوري تر اخره دا څرګندول  چي  ملاعمر او بن لادن په یوه سنګر کي  په ګډه کار کوي

په دې ترتیب ، د ملاعمر ارزښت یا اهمیت  دواړو خواو داسي کاروي یا داسي کارونه يي په سي تړل چي ده نه وه کړي

ستر مشر د طالبانو لپاره د یو پرهیزګاره شخصیت په توګه ځان وښود چي کولاي سي په جنوبي کلیو ټولنو کي بیا رونق پیداکړي

هغه په روحاني توګه د غورځنګ مشري کوله ،د خپل د اختر د پیغامو له لاري او خپلو پلویانو ته یي هدایات کول چي د هدف ملاتړ وکړي ،

د طالبانو په تحریک کي په زیاتیدونکې توګه ځیني غړو خپل مشرتابه ته د دوه مخي او خاین په سترګه کتل خو ملاعمر خپله هغه  سپیڅلتیا او صداقت  وښود له کبله چي یي د  ۹۰مي لسیزي په نیمایي کي د  کورنۍ جګړو په وخت کي  د خلګو ملاتړ ترلاسه کړي و

( متحد ایالتونو په اند چي ملا عمر په فعال ډول د خپلو سرتیرو رهبري کوله او د نوموړي د القاعده سره د همکارۍ  تړاو هم په دې خاطر اعلاناوه  چې خپل هغه ادعا پیاوړې کړي چي په افغانستان کي جګړه اوس هم پر امریکا د بریدونو له کبله  وه  .

په عین حال کي ،افغان حکومت هم غوښتل چي  د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره او پاکستان څخه د کسات اخیستلو په خاطر یي ملاعمر  پاکستان ته نیږدې وفادار ښووي، خو حقیقت له دې څخه ډیر جلا دي ،

د ملاعمر کیسه  هغو ته باید د خبرداري په توګه وړاندي سي څوک چي د افغانستان پیچلو مسایلو ته په ساده توګه ګوري

د تحریک په لو برخه کي د ابهام له کبله له ډیره وخته طالبان د نړۍ تر ټولو پیچلي یاغي ګروپ  و ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس، د اول ځل لپاره د تیرو دوو لسیزو د سولې امیدونه د میز پر سر دي ، که مذاکرات بریالي سول او امریکان په وتلو پیل وکړ د داسي پېښو کیسو د ښکاره کول به ډیر مهم وي

## طالبان او طریقت :

### The Taliban and Sufism

The Taliban's draconian interpretation of Islam is often contrasted to the more "tolerant" traditions of Sufism. In fact, the original Taliban leaders, including Mullah Omar, were practicing Sufis, drawing their theology from the traditional practices of the southern Afghan countryside. This means that theologically, they were sharply at odds with al-Qaeda, who emerged from the Salafi-Wahhabi tradition of Saudi Arabia. Sufism rejects both the literalist interpretations put forth by Wahhabis—hence Mullah Omar's criticism of the doctrine of anthropomorphizing God—as well as schools of Islamic thought that rely on reason to interpret the divine. Instead, southern Afghan Sufi leaders maintained that the individual could apprehend the divine through emotion and direct (mystical) experience. Those who had achieved such an experience were often thought to be in communion with God, and locals saw them as saints to be revered and even prayed to.

As a child, Mullah Omar had studied at the feet of Hajji Baba, a Sufi *pir* or spiritual guide. Later, he headed a small group of talibs (religious students) belonging to the Naqshbandi Sufi order.[2] During the Taliban regime, he would visit the grave of his old Sufi teacher almost weekly. He took very seriously the content of his dreams, which some Sufis believe contain divine messages. The Taliban regime allowed and even encouraged the visiting of shrines, much to the chagrin of al-Qaeda. To the Salafi-Wahhabis, many of the Taliban's practices were un-Islamic and heretical; in the late 1990s, al-Qaeda ideologues Yusuf al-Ayiri and Abu Musab al-Suri even wrote a tract to address the issue, titled "Are the Taliban from *Ahl al-Sunna*?" [Are the Taliban Sunnis?]. Though they concluded that they were, by drawing selectively from certain anti-Sufi quotes from Pakistani-educated scholars, the fact that they were forced to do so indicates just how controversial the issue was in the Salafi-jihadi movement.[3]

(c) ketabton.com: The Digital Library

For example, Mawlawi Abdul Ali Deobandi, a leading religious scholar in the Taliban regime and reportedly the figure Mullah Omar most trusted for religious rulings, once answered a reader's question in a 1990s-era Taliban publication with the following[1]:

> [Question] How about people who say that holy persons are present and watching us. Do holy personages hear us and are aware of everything we do?
>
> [Answer] O' Baba Sahib or Paw Mikh or Padshah Agha [Important Kandahari Sufi Saints]. When one uses these kinds of expressions it is because they are of the belief that holy personages are present and will help him. They are dead and can't be present. But you can pray to them and ask them to help you with blessing of the prophets and solve your problems.

Of course, as the experience of the Taliban in power shows, Sufis can be just as intolerant or draconian as any other theological or ideological grouping. For example, Abdullah Zakiri, one of southern Afghanistan's leading Sufi *pirs* during the latter half of the twenty century, was reportedly behind riots in 1959 that burned down Kandahar's only movie theater in response to a decree that officials' wives should be unveiled.[1] And the Taliban's version of Sufism was remarkably austere, a reflection of the conditions from which it emerged. (Their decrees banning music, for example, stemmed from a longstanding tradition in the southern countryside that viewed music as sinful.) But the theological differences between the Taliban old-guard leadership and al-Qaeda suggest that, ultimately, their alliance was a marriage of convenience and not one based on a deep ideological affinity.

## د واک انتقال :

لاندیني پیراګراف د (ملامحمدعمر، طالبان او افغانستان ) کتاب څخه رااخیستل سوي دي لیکوال یي عبدالحي مطمین څوک چي تر ډیره وخته د طالبانو د رژیم غړي و او د رژیم په وخت کي د ملاعمر د ویاندویانو څخه و . اخیستل سوي پیراګراف د جبارعمري لخوا تایید سو څوک چي په دې غونډه کي موجود و.

شیخ عبدالحکیم د ملامنصور لاس واخیستي او د بیعت په خاطر یي خپل لاس پر کښېښووي ، خو منصور د ډیر فشار له کبله په خولو کي لوند خیشت سو او خپل لاس یي شیخ ته نه ورکوی

. چي بیا شیخ په زوره د ده لاس ونیوي او بیعت یي ورسره وکړي او ورته یي وویل چي ته زما امیر یي او زه دي قبلوم . چي ورسته دري نورو شیخانو هم لاسونه د ده پر لاس کښېښوول او ورته یي وویل چي ته زموږ امیر یي. او بیا عبدالقیوم ذاکر د ده لاس ونیوي او په ډیرو احساساتو کي یي لاس ور مچ کړ او بیعت یي ورسره وکړ . بیا امیرخان حقاني په خپلو لاسونو ورسره بیعت وکړ . له هغه وروسته د کور څښتن او نور حاضرینو بیعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ .ملامنان (د ملاعمر اخښي) خپل لاس ملامنصور ته ورنه کړ ، کله چي شیخ وجه وپوښتل هغه ورته وویل
چي زموږ کورني حيثيت او د مشر نایب هم باید معلوم سي . په دې سره عبدالقيوم ذاکر هغه ته جدي شو چي
ته کشر سړي يي ، دې خبرو کي کار مه لره او بيعت وکړه .هغه و چي ملاعبدالمنان هم بيعت وکړ

د هغه له بیعته وروسته شیخانو عبدالمنان ته وویل چي تاته به مناسب خدمات دروسپاري ستاسي کورنۍ به
امارت هيڅکه شاته نه پريږدې . وروسته علماو له ټول مجلسه عهد واخيست چي تر مناسبو حالاتو به د مشر
د وفات خبر تش راز وي ترڅو چي حالات نورمال سي او دا خبر به له دې مجلسه نه وځي

27 See also Mutmaeen, A. (2017). *Mullah Mohammad Omar, Taliban and Afghanistan*. Afghan Publisher, p. 348.



Courtesy www.pdfbooksfree.pk

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**